د پوښتنو شمیر :          ( ۱۰۲ )

**تشریحی، لنډځوابه، څلورځوابه، خانه خالی، سمی او ناسمی پوښتنې**

مضمون :          کمپیوټر

ټولګی :          دوولسم (۱۲)

ژبه :          پښتو

### تشریحی پوښتنې

1. عامل سیستم څه شی دی او په کمپیوټر کې څه رول لري؟
2. کاریالي پوستغالي څه شی دی او د دې ډول پوستغالو له ډلي څخه د څو نومونه واخلئ؟
3. د کمپیوټر اصلي او مرستندویه حافظه توضیح کړئ ؟
4. انټرنټ څنګه رامنځته شو او نن ورځ څنګه کار کوي؟
5. د فایل انتقال پروتوکول (FTP) څه شی دی او څنګه کار کوي؟
6. کمپیوټري ویروسونه څه شی دی او مختلف ډولونه یې تشریح کړئ؟
7. ویب براوزر څه شی دی او د څو ویب براوزرو نومونه واخلئ؟ او همدارنګه بریښنالیک څه شی دی؟
8. په روغتیایی سیستم کې د کمپیوټر څخه ګټه اخیستل بیان او د هغوی له جملی څخه د MRI وسیله توضیح کړئ؟
9. بریښنایئ سوداګري (E-Commerce) څه شی ده او د څو ډوله کارتونو چې په دي سوداګری کې کارول کیږي نومونه واخلئ؟
10. د کمپیوټر اغیزې په معاصره ژوند کې په تفصیل سره تشریح کړئ؟

## لنډ ځوابه پوښتنې

1. سیستمي پوستغالی څخه ډول سافټ ویرونه دي؟
2. پټېدونکي ویروسونه څه دي؟
3. ایا کمپیوټر د عامل سیستم (Operating System) څخه پرته کارولی شو؟
4. ولې بېلابېل براوزرونه لکه Chrome او Firefox شتون لري؟
5. د دریو راکړیزو Input وسیلو نومونه ولیکئ؟
6. د کمپیوټر پربنسټ ولاړی زده کړې واضح کړئ؟
7. DNSڅه شی دی؟
8. د برېښنالیک (Email) دوه مهمې ګټې د دودیزو لیکونو په پرتله څه دي؟
9. HTTPڅه شی دی؟
10. څنګه کولای شو خپل کمپیوټر د هکرانو څخه خوندي کړو؟
11. د Web Page او Website ترمنځ توپیر څه شی دی؟
12. په کمپیوټري شبکو کې د مودم (Modem) رول څه دی؟
13. ISPڅه شی دی؟
14. د چارتونو او پریزنټیشنونو د ترتیبولو لپاره له کومی برنامی څخه کولای شو چی ګټه واخلو؟
15. په پاورپواینټ کې د چارټ (Chart) جوړولو طریقه تشریح کړئ؟
16. دComs. ، Edu.، او Gov. ځانګړتیاوې د برېښنالیک او ویب‌سایټونو په ادرسونو کې څه دي؟
17. د نړیوال ویب (World Wide Web - WWW) د جوړولو موخه څه ده؟
18. Anti-Spywareڅه شی دی او د کمپیوټر په فعالیت باندې څنګه اغېزه کوي؟
19. په اکسل (Excel) کې د معلوماتو ډولونه کوم دي؟
20. څنګه کولای شو په Microsoft Excel کې یو فایل قلف (محفوظ) کړو؟
21. د لټون ماشین (Search Engine) څه شی دی؟

## څلور ځوابه پوښتني

1. له لاندې څخه کوم یو کاریالی سافټویر دی؟

- الفWindows
- بMicrosoft Word
- ج-BIOS
- د-DOS

2. لاندی کوم مورد د مرکزی پروسس کوونکی واحد له جملی څخه ده؟

- الف) کیبورد
- ب) ماوس
- ج) CPU
- د) میکروفون

3. کوم انتخاب د لټون موتور نه دی؟

- الف-Google
- ب- Yahoo
- ج-Firefox
- د- Bing

4. د لاندې کوم یو ډول زیرمی د معلوماتو د دایمي ذخیره کولو لپاره کارول کیږي؟

- الف-RAM
- ب- Cache
- ج-Hard Disk
- د-Register

5. کوم یو د لاندې انتخابونو څخه یو ویب براوزر دی؟

- الف-Facebook
- ب-Mozilla Firefox
- ج-Google Drive
- د- YouTube

6. د کار کولو په وخت کې د لاندی کوم ډول حافظې څخه په لنډمهاله او لوړ سرعت سره د معلوماتو په ذخیره کولو کې استفاده کیږی؟

- الف- RAM
- ب- Hard Disk
- ج- ROM
- د- USB Flash

7. لاندې په کوم سافټ ویر کې عددي محاسبه کولای شو؟

- الف- Microsoft Excel
- ب- Microsoft Word
- ج- Adobe Photoshop
- د- Windows Media Player

8. پرنټر د کوم ډول وسایلو څخه ده؟

- الف- Input device
- ب- Output device
- ج- Storage device
- د- CPU

9. لاندې کوم مورد یو د کمپیوټر دننه اجزاء کې راځي؟

- الف- مادربورد
- ب- مانیتور
- ج- کیبورد
- د- ماوس

10. کوم یو د لاندې فایلونو څخه د ایمیل سره ضمیمه کیدای شي؟

- الف- تصویري
- ب- صوتي
- ج- ویدیو
- د- ټول موارد

11. کوم انتخاب د ویروس ضد سافټویر بیلګه ده؟

- الف- Microsoft Word
- ب- Google Chrome
- ج- Avast
- د- WinRAR

12. کوم یو د عامل سیستمونو یوه بیلګه ده؟

- الف- Windows
- ب- لینکس
- ج- مک
- د- ټول موارد

13. کوم یو له لاندې مواردو څخه د اکسل د اطلاعاتو ډولونو (Data type) کې راځي؟

- الف- عددي
- ب- متني
- ج- تاریخي
- د- ټول موارد

14. لاندې کوم یو مورد د اکسل د عمل کوونکو بیلګه ده؟

- الف- جمع
- ب- تفریق
- ج- ضرب
- د- ټول موارد

15. د Backspace تڼۍ دنده عبارت ده له:

- الف- د متن حذفول
- ب- د فایل له منځه وړل
- ج- د فایل ذخیره کول
- د- درې واړه سم دي

16. کمپیوټر په کومه برخه کې تر ټولو زیات تاثیر یا اغیزه لري؟

- الف- تجارت
- ب- تفریحي
- ج- تعلیم
- د- ټول موارد

17. له لاندې کومې لومړنی شبکي څخه انټرنټی شبکه رامینځته شوې ؟

- الف-Ethernet
- ب-ARPANET
- ج-LAN
- د-WWW

18.URL پته له څو برخو څخه جوړه شوې ده؟

- الف- یوه
- ب- دوه
- ج- درې
- د- څلور

19.لاندې کوم مورد د انتقال وړ زیرمي یا حافظي ښودونکی دی؟

- الف-RAM
- ب-SSD
- ج-USB Flash
- د-ROM

20.کوم انتخاب د فایل انتقال پروتوکول لنډیز دی؟

- الف-HTTP
- ب-FTP
- ج-SMTP
- د-DNS

21. د ټلنټ پروتوکول د څه لپاره کارول کیږي؟

- الف- په ویب پاڼو کې د لیکلو لپاره
- ب- په ویب پاڼو کې د ذخیره کولو لپاره
- ج- له لرې څخه کمپیوټرونو ته د لاسرسی لپاره
- د- ټول موارد

22. له لاندې کلونو څخه په یو کې په لومړی ځل د انټرنټ شبکه رامنځته شوه؟

- الف- 1996
- ب- 2001
- ج- 1957
- د- 1988

23. کوم یو له لاندې حافظو څخه د لوړ سرعت او ټیټ ظرفیت لرونکی دی؟

- الف-Hard Disk
- ب-RAM
- ج-CD-ROM
- د-Floppy Disk

24. کوم انتخاب د برښنالیک خدمتونو ښودونکی دی؟

- الف-Yahoo Mail
- ب-Microsoft Excel
- ج-VLC Media Player
- د-Adobe Photoshop

25. په Control panel کې د انټرنیټ او شبکې د تنظیماتو لپاره له کوم اختیار څخه ګټه اخیستل کیږی.

- الف-File Explorer
- ب-Network & Sharing center
- ج-Task Manager
- د-Device Manager

26. کوم یو له لاندې مواردو څخه د بې سیم شبکې یوه بیلګه ده؟

- الف-LAN
- ب-WAN
- ج-Wi-Fi
- د-Ethernet

27. د عامل سیستم د تنظیماتو بدلولو لپاره په وینډوز کې کومه برخه کارول کیږي؟

- الف-Task Manager
- ب-Control Panel
- ج-Windows Explorer
- د-Microsoft Word

28. لاندې کوم انتخاب د انټرنیټي ګواښونو څخه د سیستم د ساتنې لپاره یوه امنیتي وسیله ده؟

- الف-Firewall
- ب-VLC Media Player
- ج-Microsoft Paint
- د-Task Manager

29. لاندی کوم انتخاب د ویب پاڼو لیدلو لپاره په انټرنیټ کې کارول کیږي؟

- الف-Google Docs
- ب-Google Chrome
- ج-Microsoft Excel
- د-File Explorer

30. سیستمی پوستغالي عموماً په څو گروپونو ویشل شوی؟

- الف- ۴
- ب- ۲
- ج- ۳
- د- هیڅ

31. کوم انتخاب د ویروس یوه بیلګه ده چې د کارونکي له خبرتیا پرته معلومات راټولوي؟

- الف-Spyware
- ب-Firewall
- ج-VPN
- د-Cloud Storage

**خانه خالی پوښتني**

1. د Microsoft Word برنامه د ____________ سافټ ویر څخه دي.
2. د DNS اصطلاح د ______ لنډیز دی.
3. ورکړیز برخه هغه وسایل دي چې معلومات د کمپیوټر د پوهیدو وړ ژبې یعنې ______ ته اړوي.
4. راکړیزه برخه  معلومات په داسې بڼه بدلوي چې ______ ته د پوهیدو وړ وي.
5. مادربورډ د کمپیوټر د ______ په توګه پېژندل کېږي.
6. CPU د ____________ مخفف دي.
7. RAM یوه لنډمهاله حافظه ده چی د __________ له ډول څخه ده.
8. په اکسل کې، د فورمول جوړولو لپاره د ______ نښه کارول کېږي.
9. د نوی صفحی د منځته راوړلو لپاره په مایکروسافټ اکسل پروګرام کې د ____________ شارټ کټ کاروو.
10. په انټرنیټ کې، دwww ______ لنډیز دی.
11. په اکسل کې، د قطارونو او کالمونو پټولو لپاره د ______ اپشن کارول کېږي.
12. په ایمیل یا برښنالیک کې، د فایلونو ضمیمه کولو لپاره د ______ اپشن کارول کېږي.
13. ویب براوزر کاروونکو ته د ______ د لیدلو اسانتیا برابروي.
14. هغه سافټویر چې د هارډویر او کاریال سافټویر ترمنځ اړیکه جوړوي، ______ نومیږي.
15. په ډیرو پروګرامونو کې د صفحی د خلاصولو لپاره د ______ شارټ کټ څخه ګټه اخیستل کیږی.
16. په کمپیوټر کې تر ټولو کوچنی اطلاعاتی ( Data) واحد چې زیرمه کیږي ______ نومېږي.

17. د یوه فایل نوم د تغیرولو لپاره په هغه راسته کلیک کوو او وروسته د ـــــــ اپشن کلیک کوو.

18. هغه پروگرام چې د گټور پروگرام په بڼه ښکاري، خو په حقیقت کې زیان رسوونکی وي، ـــــــــ نومېږي.

19. هغه ویروس چې ځان د exes ، bat یا com فایلونو دننه ځای پر ځای کوي، ـــــــــ نومېږي.

20. ـــــــــــ د انټرینټي پاڼو لپاره د یو ډول Browser څخه عبارت ده.

### سمی او ناسمی پوښتني

1. کمپیوټر په معاصر ژوند کې یوازې په سوداګرۍ کې اغېز لري. (غلط) (صحیح)
2. برېښنایزه سوداګري د دې معنی لري چې توکي د اعتباري کارتونو په کارولو سره اخیستل او پلورل کېږي. (صحیح) (غلط)
3. عامل سیستم د کمپیوټر یو له اساسي پروګرامونو څخه دی. (صحیح) (غلط)
4. کمپیوټري ویروسونه د کاروونکو لخوا لیکل کېږي. (غلط) (صحیح)
5. مادر بورډ د کمپیوټر د مغز په توګه پېژندل کېږي. (غلط) (صحیح)
6. ورکړیزه برخه(Input) اطلاعات( data) د کمپیوټر د پوهېدو وړ ژبې ته بدلوي. (صحیح) (غلط)
7. راکړیزه برخه( Out put) معلومات ( data) داسې بڼه ته بدلوي چې انسان پرې پوهېدای شي. (صحیح) (غلط)
8. مرستندویه زیرمه د معلوماتو د موقتي ذخیره کولو لپاره کارول کېږي. (غلط) (صحیح)
9. په وینډوز اکسپلورر کې، د فایلونو او فولډرونو د لټون لپاره د Search آپشن کارول کېږي. (صحیح) (غلط)
10. په پاورپاینټ کې، د غږ د اضافه کولو لپاره د Insert آپشن کارول کېږي. (صحیح) (غلط)
11. په اکسل کې، د فارمولونو د جوړولو لپاره د (=) نښه کارول کېږي. (صحیح) (غلط)
12. په اکسل کې، د قطارونو او کالمونو د پټولو لپاره د Hide آپشن کارول کېږي. (صحیح) (غلط)
13. په برېښنالیک (ایمیل) کې، د فایلونو د ضمیمه کولو لپاره د Attach آپشن کارول کېږي. (صحیح) (غلط)
14. ویب براوزرکاروونکو ته د ویب پاڼو د کتلو اسانتیا برابروي. (صحیح) (غلط)
15. ROM د معلوماتو د دایمي ذخیره کولو لپاره کارول کېږي. (غلط) (صحیح)
16. HTTP د Hypertext Transfer Protocol مخفف دی. (غلط) (صحیح)

17. Fairfax او Google Chrome د ویروس ضد سافټویرونه دي. (غلط) (صحیح)

18. د URL لومړنۍ برخه د خدمت ډول ته اشاره کوي. (غلط) (صحیح)

19. د ګوګل وېب‌سایټ د برېښنالیکی خدمتونو یو چمتوونکی دی. (غلط) (صحیح)

20. د FTP پروتوکول د فایلونو د لېږد لپاره له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته کارول کېږي. (غلط) (صحیح)